❖❖❖

# د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي ډیپلوماسي؛ فرصتونه او ننګونې


عزیزاحمد فضلي*

پوهندوی عبدالناصر ستانکزی**

پوهندوي خالد احمد حبیب***



***لنډیز***

*په معاصر نړیوال نظام کې اقتصادي فکتورونه د حکومتونو د بهرنۍ پالیسۍ مهم او ټاکونکي عناصر ګڼل کېږي. د سوداګرۍ، پانګونې، انرژۍ، ترانزیټ او مالي همکاریو د پراختیا له لارې اقتصادي ډیپلوماسي د ملي ګټو د خوندي کولو او پرمختګ یوه اساسي وسیله ده. افغانستان د خپل جغرافیایي موقعیت، طبیعي سرچینو او سیمه‌ییز اتصال له پلوه د اقتصادي ډیپلوماسۍ لپاره ځانګړې ظرفیت لري او کولای شي د سوداګریزو دهلېزونو، ترانزیټي شبکو او سیمه‌ییزو اقتصادي پروژو له لارې د اقتصادي همکاریو مهم محور شي. سره له دې، اوږدمهاله اقتصادي ستونزې، زېربنایي محدودیتونه او سیاسي بدلونونه د اقتصادي ډیپلوماسۍ تطبیق اغېزمنوي. دغه څېړنه د افغانستان اسلامي امارت په بهرنۍ پالیسۍ کې د اقتصادي ډیپلوماسۍ اهمیت، فرصتونه او ننګونې تحلیلوي. دا څېړنه د توصیفي-تحلیلي میتود، کتابتوني او اسنادي منابعو په کارولو سره، د حکومت‌محوره اقتصادي سیاست پر تیوریکي چوکاټ ولاړه ده. د څېړنې پوښتنه دا ده، چې د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي ډیپلوماسي په بهرني سیاست کې څه رول، کوم فرصتونه او ننګونې لري. فرضیه دا ده، چې اسلامي امارت د ملي ګټو خوندي کولو او سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو پراختیا لپاره مهم فرصتونه لري، خو د نړیوال رسمیت محدودیتونه، مالي ستونزې، اداري ظرفیتونه او سیمه‌ییز سیاسي شرایط یې د اغېزناکتیا مخه نیسي. د څېړنې موندنې ښیي، چې افغانستان د خپل جغرافیایي موقعیت، طبیعي سرچینو، ترانزیټي لارو او سیمه‌ییزو اړیکو له لارې پراخ اقتصادي فرصتونه لري. که دغه فرصتونه په سمه توګه مدیریت شي، هېواد کولای شي له حاشیوي رول څخه د سیمه‌ییزو او نړیوالو اقتصادي معادلو فعال ګډونوال شي.*



***کلیدي کلمې:*** *اسلامي امارت، اقتصادي ډیپلوماسي، سیمه‌ییز ادغام، فرصتونه، ننګونې.*


---


*د ملي خصوصي پوهنتون د څېړنې او علمي مجلې رییس (مسؤول لیکوال)

** د پکتیا پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد

***د ملي خصوصي پوهنتون عمومي رییس

**سریزه**

د نړیوال اقتصاد د چټک بدلون، د سوداګریزو شبکو پراختیا او د ټکنالوژۍ د پرمختګ له امله، اقتصادي ډیپلوماسي د حکومتونو لپاره د ملي ګټو د خوندي کولو او پراختیا یوه اساسي وسیله ګرځېدلې. د اقتصادي ډیپلوماسۍ له لارې حکومتونه د سوداګرۍ، پانګونې، انرژۍ، ترانزیټ او مالي همکاریو په برخو کې خپلې ستراتیژیکې موخې عملي کوي (دهقانی فیروزآبادی، ۱۳۹۱: ص. ۷۷). په نړیوال سیاست کې د اقتصادي تعاملاتو زیاتېدونکي اهمیت دا اړتیا رامنځته کړې، چې هېوادونه د خپلو بهرنیو اړیکو په چوکاټ کې اقتصادي اجنډا ته ځانګړی لومړیتوب ورکړي. افغانستان د خپل جغرافیايي موقعیت، طبیعي زېرمو او سیمه‌ییز اتصال له پلوه د اقتصادي ډیپلوماسۍ لپاره ځانګړی ظرفیت لري. دغه هېواد د مرکزي، جنوبي او لوېدیځې اسیا ترمنځ د وصل د مهم موقعیت له امله کولای شي د سوداګریزو دهلېزونو، انرژۍ لېږد او ترانزیتي شبکو د پراختیا له لارې د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو مهم محور شي (تنزه‌اي، ۱۴۰۴: ص. ۱۰).

سره له دې، چې افغانستان له اوږدمهاله اقتصادي ستونزو، زېربنايي محدودیتونو، نړیوالو مالي محدودیتونو او سیاسي بدلونونو سره مخ و، چې له امله یې دې وضعیت د اقتصادي ډیپلوماسۍ د اغېزناک تطبیق پر وړاندې جدي ستونزې را ولاړې کړې وې، خو د ۲۰۲۱م کال له سیاسي تحول وروسته، اسلامي امارت د بهرنۍ پالیسۍ په چوکاټ کې اقتصادي تعاملاتو ته ځانګړې پاملرنه کړې او هڅه کوي، چې د سوداګریزو اړیکو پراختیا، د ترانزیتي همکاریو پیاوړتیا او د سیمه‌ییزو اقتصادي پروژو فعالولو له لارې د هېواد اقتصادي وضعیت ښه کړي. سره له دې، د نړیوال سیاسي مشروعیت محدودیتونه، د مالي سیستم ستونزې، د ادارو ظرفیت او د سیمه‌ییزو سیاسي شرایطو بدلونونه د اقتصادي ډیپلوماسۍ پر عملي کېدو مستقیم اغېز ښندلی دی (انیس، ۲۰۲٦)

په دې برخه کې شته علمي ادبيات تر ډېره د اقتصادي ډيپلوماسۍ عمومي مفاهيم او د حکومتونو اقتصادي تعاملات څېړي، له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت د اقتصادي ډيپلوماسۍ په اړه محدودې علمي څېړنې شوې دي. موجودې څېړنې زياتره د افغانستان پر عمومي اقتصادي سياستونو، سيمه‌ييزو همکاريو او د ۲۰۲۱م کال له تحول وروسته دورې باندې متمرکزې دي. د اسلامي امارت د اقتصادي ډيپلوماسۍ د فرصتونو، محدوديتونو او عملي ظرفيتونو علمي تحليل لا هم پراخو څېړنو ته اړتيا لري. موجوده څېړنه تر يو بريده کوښښ کوي، چې دغه تشه ډکه او د اسلامي امارت اقتصادي ډيپلوماسۍ فرصتونه او ننګونې په علمي ډول تحليل کړي، چې دا د دې څېړنې اهميت او مبرميت په ډاګه کوي.

د څېړنې موخه دا ده، چې د افغانستان اسلامي امارت په بهرني سياست کې د اقتصادي ډيپلوماسۍ اوسنی وضعيت تحليل کړي، د اقتصادي تعاملاتو مهم فرصتونه او ننګونې وپېژني او د اقتصادي ډيپلوماسۍ د اغېزناک تطبيق لپاره عملي وړانديزونه اړوند ادارو ته وړاندې کړي.

څېړنه د توصيفي–تحليلي مېتود پر بنسټ د معلوماتو د راټولو د کتابتوني تګلارې څخه په استفادې غواړي، چې دې پوښتنې ته ځواب ورکړي: د افغانستان اسلامي امارت په بهرني سياست کې د اقتصادي ډيپلوماسۍ بنسټيز رول څومره او کوم فرصتونه - ننګونې لري؟ د څېړنې فرضيه دا بيانوي، چې د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي ډيپلوماسي د هېواد ملي ګټو د خوندي کولو او سيمه‌ييزو اقتصادي همکاريو د پراختيا لپاره مهم فرصتونه لري، خو د نړيوالې رسميت پېژندنې محدوديتونه، مالي ستونزې، اداري ظرفيتونه او سيمه‌ييز سياسي شرايط يې اغېزناکتيا محدودوي.

د څېړنې جوړښت داسې دی، چې له سريزې وروسته، لومړی د تيوريکې چوکاټ او تېرو څېړنو کتنه وړاندې کېږي. ورپسې د افغانستان په اوسنيو شرايطو کې د

اقتصادي ډيپلوماسۍ اهميت څېړل کيږي او د تېرو دورو اقتصادي ډيپلوماسۍ وضعيت ته کتنه کېږي. بيا د افغانستان د اسلامي امارت په اقتصادي ډيپلوماسۍ تمرکز شوی او د هغې فرصتونه او ننګونې تحليل شوي. څېړنه په پای کې د مناقشې، عملي وړانديزونو، پايلو وړاندې کولو او د کارول شو سرچينو په ذکر کولو سره پای مومي.

## ۱. تيوريکي چوکاټ

اقتصادي ډيپلوماسي د معاصر نړيوال سياست له مهمو مفاهيمو څخه ده، چې د حکومتونو د بهرني سياست اقتصادي اړخونه تحليلوي ( کاظمی، ۱۴۰۳: ص. ۲۹-۳۱). په نړيوال سياسي اقتصاد کې يو له مهمو نظرياتي ليدلورو څخه حکومت‌محوره اقتصادي سياست[1] ګڼل کېږي، چې د حکومتونو له خوا د اقتصادي وسايلو د کارونې له لارې د بهرني سياست د موخو د تحقق څرنګوالی بيانوي. د دې نظريې له مخې، حکومتونه د سوداګرۍ، پانګونې، مالي تعاملاتو، اقتصادي مرستو، بنديزونو او ترانزيتي همکاريو د کارولو له لارې هڅه کوي، چې خپلې ستراتيژيکې - ملي ګټې خوندي او پراخې کړي (Luiz: 2022). دا نظريه استدلال کوي، چې په معاصر نړيوال نظام کې اقتصادي ځواک د سياسي نفوذ له مهمو سرچينو څخه دی او حکومتونه کولای شي، چې اقتصادي تعاملات د تشويقي او فشاري وسايلو په توګه وکاروي؛ اقتصادي تشويقونه د پانګونې فرصتونو او مالي همکاريو له لارې د متقابل تعامل فضا رامنځته کوي، حال دا چې اقتصادي فشارونه لکه بنديزونه، تعرفې او مالي محدوديتونه د سياسي فشار وسيلې ګرځي. له همدې امله، اقتصادي تعاملات يوازې سوداګريز فعاليتونه نه، بلکې د بهرني سياست مهم ستراتيژيک عنصر ګڼل کېږي.

د افغانستان د اقتصادي ډيپلوماسۍ تحليل د دې تيورۍ له نظره ځانګړی اهميت لري، ځکه افغانستان په داسې نړيوال او سيمه‌ييز چاپېريال کې فعاليت کوي، چې

[1] State-centric economic policy

اقتصادي تعاملات په‌کې د بهرني سياست له مهمو وسيلو څخه دي. د دې تيورۍ پر بنسټ د افغانستان اقتصادي ډيپلوماسي په څلورو اساسي محورونو کې تحليلېدای شي: لومړی، جغرافيايي او ترانزيټي موقعيت، چې افغانستان ته دا ظرفيت ورکوي، څو د سيمه‌ييز اتصال مهم مرکز وګرځي او د سوداګريزو دهلېزونو او انرژۍ لېږد پروژو له لارې اقتصادي تعاملات پراخ کړي. دويم، سيمه‌ييز اقتصادي تعاملات، چې د سوداګرۍ، پانګونې او ترانزيټي همکاريو له لارې د اقتصادي اړيکو پراختيا تضمينوي دريېم، نرمه اقتصادي ډيپلوماسي، چې د باور جوړونې، سوداګريزو اړيکو او اقتصادي مشارکتونو د پراختيا له لارې عملي کېږي. څلورم، کورني اقتصادي اصلاحات، چې د پانګونې د جذب، د اداري ظرفيتونو پياوړتيا او د اقتصادي بنسټونو د اصلاح په برخه کې مهم رول لري. په دې توګه، پورته نظرياتي چوکاټ د دې څېړنې لپاره منظم مفهومي بنسټ وړاندې کوي او څېړنه پر همدې تيورۍ را څرخي.

### ۲. د افغانستان په موجوده شرايطو کې د اقتصادي ډيپلوماسۍ اهميت

اقتصادي ډيپلوماسي د سړې جګړې له پای ته رسېدو وروسته مطرح شوه او نن ورځ د هېوادونو په بهرني سياست کې د دوديزې ډيپلوماسۍ ترڅنګ د يوې ځواکمنې وسيلې په توګه پېژندل کېږي. په بل عبارت، اقتصادي ډيپلوماسي د دې لپاره رامنځته شوه، چې د نړيوالو اړيکو په ډګر کې د حکومتي سياست جوړونې د موخو د تحقق په برخه کې، د دوديزې ډيپلوماسۍ نيمګړتياوې جبران کړي. له سړې جګړې وروسته شرايط سبب شول، چې يو شمېر هېوادونه ورو ـ ورو د امنيت‌محوره بهرني سياست پر ځای اقتصادمحوره بهرنی سياست غوره کړي ( کاظمی، ۱۴۰۳: ص.۴۸). په افغانستان کې هم د اقتصادمحوره بهرني سياست او د سيمې له هېوادونو سره د اقتصادي ډيپلوماسۍ د پياوړتيا مفکوره له تېرو څه باندې دوو لسيزو راهيسې رامنځته شوې او د افغانستان له سياسي او اقتصادي برخليک سره تړلې ده. له دې کبله اسلامي

امارت هم هڅه کوي، چې له سیمې او نړۍ سره اقتصادي ډیپلوماسي مخته یوسي او د بهرنیو اړیکو له امنیتي کېدو څخه ډډه وکړي.

د تېرو کلونو تجربو ښوده، چې د نورو هېوادونو له لوري د افغانستان د جغرافیې امنیتي کول، دغه هېواد انزوا ته ټېل وهي او د سیمه‌ییزو همکاریو له شبکو څخه یې محروموي. د اسلامي امارت د تېرو څلورو کلونو د سیاست ارزونه هم څرګندوي، چې دغه حکومت لېوالتیا لري، څو د اقتصادي ډیپلوماسۍ له لارې د سیمه‌ییزو همکاریو په چوکاټونو کې مدغم او د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو په شبکه کې د افغانستان لپاره مناسب ځای ومومي (موسوي، ۱۴۰۴).

د نړیوال اقتصاد د سیالۍ د زیاتېدو، د بازارونو د پراخېدو او د پانګونې د نړیوال کېدو له امله، اقتصادي ډیپلوماسي د اقتصادي ودې، ثبات او ملي امنیت لپاره یو ستراتیژیک عنصر ګڼل کېږي. په افغانستان کې هم د دا ډول ډیپلوماسۍ اهمیت خورا ډېر شوی، ځکه هېواد له اوږدو اقتصادي کړکېچونو، محدودو منابعو او نړیوالو بندیزونو سره مخ دی. په دې شرایطو کې اقتصادي ډیپلوماسي کولای شي:

۱. د اقتصادي بیارغونې او له نړیوال اقتصاد سره د بیا نښلېدو فرصتونه رامنځته کړي،


۲. د صادراتو پراختیا او د بهرنۍ پانګونې جذب یقیني کړي،

۳. د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو پیاوړتیا تضمین کړي.

افغانستان د خپل جغرافیایي موقعیت، طبیعي زېرمو، ترانزیټي ظرفیت او بشري منابعو له کبله د اقتصادي ډیپلوماسۍ لپاره لوړ پوتانسیل لري. د دغه پوتانسیل سم استعمال د افغانستان د اسلامي امارت لپاره دا زمینه برابروي، چې د هېواد ملي ګټې خوندي او پیاوړې کړي. اقتصادي ډیپلوماسي نه یوازې د بهرني سیاست یوه وسیله ده، بلکې له داخلي اقتصادي سیاستونو سره هم نږدې تړاو لري. د پانګونې جذب، د کارموندنې رامنځته کول،

د کورني تولید ملاتړ، د خصوصي سکتور پیاوړتیا او د صادراتو تشویق هغه برخې دي، چې د افغانستان اقتصادي ډیپلوماسي په عملي توګه کولی شي ګړندۍ یې کړي. سربېره پر دې، له سیمه‌ییزو او نړیوالو اقتصادي شبکو سره فعالې اړیکې د هېواد د اقتصادي نفوذ د زیاتوالي او د اغېزناک او متوازن بهرني سیاست د پیاوړتیا لپاره اساسي وسیله بلل کېږي (تنزه‌اي، ۲۰۲٦: ص. ۱٦٦).

اقتصادي ډیپلوماسي د افغانستان لپاره یو بنسټیز ستراتیژیک انتخاب دی، ځکه چې دا د سیاسي ثبات د پیاوړتیا، اقتصادي ځان‌بسایني د رامنځته کېدو، دوامدارې اقتصادي ودې او نړیوال اقتصاد سره د تدریجي ادغام زمینه برابروي.  په اوسني وضعیت کې، افغانستان د نړیوال رسمیت د محدودیتونو او سیاسي انزوا له ننګونو سره مخ دی. په داسې شرایطو کې اقتصادي ډیپلوماسي کولای شي د سیاسي تعامل د پراخولو، د اقتصادي بقا د تضمین او نړیوالو اقتصادي تعاملاتو ته د تدریجي ورننوتلو لپاره یو عملي او نسبتاً کم‌لګښته سیاسي بدیل وي. د اقتصادي همکاریو پراختیا، سیمه‌ییز اتصال او سوداګریز تعامل نه یوازې اقتصادي اړتیا ده، بلکې د نړیوالو اړیکو د عادي کېدو لپاره هم یو مهم مسیر ګڼل کېږي (Shakeeb, 2025). د افغانستان د اقتصادي ډیپلوماسۍ عملي کچې عموماً په دریو سطحو وېشل کېږي:



- د سیاسي بدلونونو له پیل راهیسې، د افغانستان د بهرني سیاست په چوکاټ کې بېلابېل اقتصادي لیدلوري او سیاستونه رامنځته شوي دي. د هېواد د اقتصادي ډیپلوماسۍ هر پړاو د خپل وخت له سیاسي، امنیتي او نړیوال چاپېریال سره نږدې تړاو درلود. له همدې امله، په افغانستان کې د اقتصادي ډیپلوماسۍ بهیر په لاندې دوو دورو کې څېړل کېږي:

- **۳. د ۲۰۰۱-۲۰۲۱م پړاو اقتصادي ډیپلوماسي**

له ۲۰۰۱م کال وروسته، د افغانستان بهرنی سیاست له ژورو سیاسي، امنیتي او فکري بدلونونو سره مخ شو. د حکومت د بیارغونې په لومړیو کلونو کې د بهرني سیاست د بنسټیزو مفاهیمو په اړه سیاسي اختلافات، د اوږدمهاله ستراتېژیک لیدلوري نشتون او د پالیسۍ جوړونې نظري بې‌ثباتي د دې لامل شوه، چې اقتصادي ډیپلوماسي څنګه چې لازمه وه، هغسې اغېز ونه لري. په دغه پړاو کې د بهرنیو چارو وزارت او نورو ډیپلوماټیکو بنسټونو محدود اداري ظرفیت، د مسلکي کدرونو کمښت او د ملي اقتصادي اجنډا نشتون، د دې سبب شو، چې د افغانستان ډیپلوماسي د هېواد اقتصادي ګټې په منظم او اغېزناک ډول تعقیب نه کړي. همدارنګه جګړې، کورنۍ ناامنۍ او سیمه‌ییزو سیالیو د بهرني سیاست اصلي اجنډا جوړوله، چې له امله یې اقتصادي موخې تر ډېره د امنیتي لومړیتوبونو تر سیوري لاندې تعریفېدې او اقتصادي ډیپلوماسي ثانوي اهمیت درلود (پور رمضان، ۱۴۰۲).

اداري فساد، د صادراتو او وارداتو پر وړاندې خنډونه، دوامداره ترانزیټي ستونزې او د کورني صنعت کمزورتیا هغه عوامل وو، چې د افغانستان د اقتصادي ډیپلوماسۍ اغېز یې محدود کړ. دغو محدودیتونو د حکومت ظرفیت کمزوری کړ او هېواد ونه توانېد، چې په نړیوالو اقتصادي تعاملاتو کې د اقتصادي فشار او تشویق میکانیزمونه په اغېزناک ډول وکاروي. سره له دې، په یاد پړاو کې د اقتصادي سیاستونو د اصلاح

لپاره ځينې هڅې هم ترسره شوې. حکومت هڅه وکړه، چې اقتصادي مداخله د اقتصادي تنظيم او ملي لومړيتوبونو په چوکاټ کې تنظيم کړي، د پانګونې د جلب له لارې د خصوصي سکتور وده وهڅوي او د مالي نظام د لګښتونو د کمولو او اقتصادي موثريت د لوړولو لپاره مشخص پروګرامونه طرحه کړي. دا اقدامات د حکومت د مستقيم اقتصادي نقش د پياوړتيا او د بازارونو د همغږۍ په لور مهم ګامونه بلل کېږي، چې د ملي ګټو د تحقق او د اقتصادي ډيپلوماسۍ د بنسټونو د پياوړتيا لپاره يې نسبي زمينه برابره کړه. بيا هم، د امنيت‌محوره بهرني سياست غلبې اجازه ورنه کړه، چې اقتصادي ډيپلوماسي د افغانستان د بهرني سياست اصلي محور وګرځي (تنزه‌ای، ۲۰۲۶: ص ۱۶۹).

**۴. د افغانستان اسلامي امارت (۲۰۲۱–۲۰۲۵) اقتصادي ډيپلوماسي**

د افغانستان اسلامي امارت له بيا واکمنېدو وروسته، د هېواد بهرنۍ تګلاره يوې نوې مرحلې ته داخله شوه، چې په‌کې اقتصاد د بهرنۍ پاليسۍ د مهمې ستراتيژيکې وسيلې په توګه مطرح شو. اسلامي امارت هڅه کوي، چې خپله بهرنۍ تګلاره د اسلامي ارزښتونو، سياسي خپلواکۍ، عدالت‌محوره فکر او ملي ګټو پر بنسټ تنظيم کړي. په همدې چوکاټ کې، اقتصادي ډيپلوماسي يوازې د سوداګرۍ موضوع نه، بلکې د سياسي استقلال، بنديزونو پر وړاندې د مقاومت او د ملي اقتصاد د پياوړتيا وسيله ګڼل کېږي. د اقتصادي ډيپلوماسۍ په عملي چوکاټ کې، اسلامي امارت تر ډېره پر سيمه‌ييزو اړيکو او د بديلو اقتصادي شريکانو پر موندلو تمرکز کړی. له چين، روسيې، د منځنۍ اسيا له هېوادونو، ايران، پاکستان، هند او نورو ګاونډيانو سره اقتصادي تعامل د دې لپاره مهم بلل کېږي، چې د نړيوالو بنديزونو اغېزې راکمې، د هېواد اقتصادي اړيکې فعالې او د اقتصادي همکاريو تنوع رامنځته شي. دغه سيمه‌ييز تمرکز د افغانستان لپاره دا امکان برابروي، چې د محدودو نړيوالو اړيکو په دې پړاو کې

سوداګریزې، ترانزيټي او انرژۍ اړوند اړیکې پراخې کړي او د اقتصادي انزوا اغېزې تر یوه بریده راکمې کړي. له همدې امله، سیمه‌ییز اقتصادي تعامل د اسلامي امارت د اقتصادي ډیپلوماسۍ د عملي سیاست یو مهم محور ګڼل کېږي.

اسلامي امارت په سیمه‌ییزه اقتصادي ډیپلوماسۍ کې هڅه کړې، چې پاکستان د سیمه‌ییزو ترانزيټي او سوداګریزو فرصتونو لپاره وهڅوي، په ځانګړي ډول د افغانستان له لارې مرکزي آسیا ته د لاسرسي په برخه کې (جلالي، ۱۴۰۳). د دې کار موخه دا وه، چې پاکستان له امنیت محوره سیاستونو فاصله واخلي او خپل سیاست له افغانستان سره په اقتصادي چوکاټ کې همغږی کړي، خو تېر شاوخوا شل کلونه او اوسنی وضعیت دا څرګندوي، چې پاکستان خپلې امنيتي محوره تګلارې نه دي بدلې کړې. له دې امله، د مرکزي اسیا او پاکستان ترمنځ د انرژۍ، ترانزیټ او سوداګرۍ ګډې پروژې له ځنډ او خنډ سره مخ شوې دي. د دې وضعیت اصلي دلیل دا دی، چې پاکستان هڅه کوي څو افغانستان د مرکزي آسیا ترانزيټي شبکې سره وصل نشي او افغانستان لا هم د پاکستان ترانزيټي مسیر پورې تړلی پاتې شي. همدارنګه پاکستان له دې مسیره د ایران د محروموملو هڅه هم کوي، ترڅو د ګوادر بندر اهمیت خوندي پاتې شي. سربېره پر دې، د ډیورند کرښه او په افغانستان کې د هند د ستراتیژیک حضور اندېښنو پاکستان دې ته اړ کړی، چې پر افغانستان د بدیلو ترانزيټي لارو محدودیتونه ولګوي. په عمل کې، پاکستان له دې ترانزيټي مسیرونو د اقتصادي او سیاسي فشار د وسیلې په توګه کار اخلي (Keyvan Hosseini, 2026: P. 361-365)


اسلامي امارت هڅه کوي، په تدریجي ډول افغانستان د مرکزي اسیا له اقتصادي حوزې سره بشپړ ونښلوي او دغه هېواد د مرکزي اسیا د ترانزيټي شبکې برخه وګرځي، ځکه دا سیمه نسبتاً له سیاسي او امنیتي ثبات برخمنه ده، شخړې او منازعات په‌کې کم دي او افغانستان کولی شي له خپل جغرافیایي موقعیت څخه په ګټه اخیستنه د

سیمه‌ییزو اقتصادي او ترانزیټي پروژو برخه شي. چین هم د واخان مسیر له لارې د مستقیم ترانزیت د جوړولو وعده ورکړې، خو له پاکستان سره د سیاسي همغږۍ او د جغرافیایي ستونزو له امله، تر اوسه په دې مسیر کې عملي ګامونه نه دي اخیستل شوي. همدارنګه اسلامي امارت له ایران سره هم د ترانزیټي او اقتصادي همکاریو پر پراختیا تمرکز کړی. د ایران-افغانستان ترمنځ د ترانزیټي ظرفیت لوړوالی، د چابهار بندر او د اوسپنې پټلۍ پروژې (خواف-هرات) پرمختګونه، افغانستان ته دا امکان ورکوي، چې د پاکستان ترانزیټي فشار ته بدیل مسیر ولري (CSRS, 2023).

اسلامي امارت هڅه کوي، چې د افغانستان جیوپولیټیک موقعیت د اقتصادي فرصت په توګه وکاروي. د ترانزیټ، سیمه‌ییز اتصال، کانونو استخراج، انرژۍ او بنسټیزو پروژو پراختیا د اقتصادي ډیپلوماسۍ اساسي محورونه جوړوي. دا ستراتیژي پر دې باور ولاړه ده، چې پایداره اقتصادي پرمختګ یوازې هغه مهال شونی دی، چې امنیت، سیاست او اقتصاد په متوازن ډول پر مخ ولاړ شي. اقتصادي ډیپلوماسي د بندیزونو د نرمولو، د سیاسي انزوا د کمولو او د نړیوال تعامل د پراختیا یوه مهمه وسیله ده، چې اسلامي امارت هڅه کوي، د سیمې په کچه د یو اغېزناک او تعامل وړ لوبغاړي په توګه ځان مطرح او د لویو قدرتونو د نفوذ پر وړاندې یو نرم توازن رامنځته کړي (مظلوم یار، ۲۰۲۱). د افغانستان اسلامي امارت د اقتصادي فعالیتونو په برخه کې عملي ګامونه اخیستي، چې په‌کې په مهمو سیمه‌ییزو ښارونو او اقتصادي مرکزونو کې د سوداګریزو مرکزونو پرانیستل، د سوداګرۍ د اسانتیا لپاره د سوداګرۍ خونو پیاوړتیا، د صنعت او کانونو له سکتور سره د بهرنۍ همکارۍ پراختیا او د مستقیمو ترانسپورټي او هوایي اړیکو رامنځته کول شامل دي. همدارنګه، د کانونو، انرژۍ، ترانزیټ او زیربنایي پروژو د تطبیق لپاره د کورنیو او بهرنیو شرکتونو جلب هم د اقتصادي ډیپلوماسۍ مهمه وسیله ګڼل کیږي.

سره له دې چې يو شمېر اقتصادي فعاليتونه ترسره شوي، خو د اسلامي امارت بهرنۍ تګلاره د نړيوالو قدرتونو د سياسي فشار او د اقتصادي بنديزونو تر اغېز لاندې پاتې ده. له همدې امله، د افغانستان اقتصادي تعاملات تر ډېره د سياسي ملاحظاتو تر سيوري لاندې تنظيم شوي دي. دا وضعيت د دې لامل شوی، چې اقتصادي ډيپلوماسي په عملي ډګر کې تر ډېره د بنديزونو د اغېزو د کمولو او د بقا د ستراتيژۍ بڼه خپله کړي، نه د بشپړ اقتصادي ادغام لپاره. د نړيوال نظام له لوري د ملي حاکميت د محدودولو هڅې، که د سياسي فشارونو، بنديزونو او يا د نړيوالو پرېکړو له لارې وي، د اسلامي امارت له نظره د بهرنۍ او اقتصادي پاليسۍ پر وړاندې يو اساسي خنډ ګڼل کېږي (Fazli,2025: P.57-58).

د اقتصادي سياست له پلوه، اسلامي امارت هڅه کوي، چې د غيرنفتي صادراتو پراختيا، د کرنې، کانونو او سپکو صنعتونو ملاتړ او له سيمه‌ييزو بازارونو سره د سوداګرۍ زياتوالی د بديلې لارې په توګه وکاروي. که څه هم له لوېديځو هېوادونو سره اقتصادي تعامل محدود پاتې دی، خو له سيمه‌ييزو هېوادونو او ځينو اروپايي بازارونو سره په مشخصو برخو کې تعامل د اقتصادي تنوع لپاره مهم ګڼل کېږي. لاندې ګراف د افغانستان د صادراتو او وارداتو ارزښت ښيي، چې واردات د صادراتو په پرتله زيات دي او د سوداګريز کسر شتون، د کورني توليد کمزورتيا او د صادراتو تنوع د اقتصادي ډيپلوماسۍ د پياوړتيا اړتيا ښکاره کوي.




[صادرات / وزارت صنعت و تجارت / واردات / وزارت صنعت و تجارت]

### ۱,۴. د اسلامي امارت د اقتصادي ډیپلوماسۍ ننګوني

سره له دې چې د افغانستان اسلامي امارت د اقتصادي ډیپلوماسۍ د پیاوړتیا لپاره ځینې اقدامات کړي، خو دغه بهیر لا هم له ګڼو سترو ننګونو سره مخ دی، چې د دې تګلارې ثبات، دوام او اغېزناکتیا تر پوښتنې لاندې راولي. د دغو ننګونو تحلیلي کتنه په لاندې ډول ده:

- **د بهرنیو پانګونو کمښت او سیاسي محدودیتونه**: د اقتصادي ډیپلوماسۍ یوه مهمه موخه د بهرنیو پانګو جذب دی. افغانستان د طبیعي سرچینو، ستراتیژیک جغرافیایي موقعیت او ترانزیتي امکاناتو له نظره لوړ ظرفیت لري، خو د نړیوال سیاسي مشروعیت محدودیت، امنیتي اندېښنو او د حقوقي پروسو د پېچلتیاوو له امله پانګه‌وال په احتیاط سره بازار ته داخلېږي. د بېلګې په توګه، د چین، قطر او ترکیې ځینې پانګه‌والو د افغانستان په کانونو او کرنې کې د پانګونې لپاره علاقه ښودلې وه، خو د

بانکدارۍ برخه کې د شفافیت نشتوالي، د جوازونو پېچلې پروسې او د احتمالي بندیزونو له کبله خپلې پانگونې ځنډولې دي. (Aziz,2025: P.39-40)

- **د سیالۍ کمزورۍ بنسټ او پر طبیعي سرچینو تکیه:** د نړیوال رقابت وړتیا د اقتصادي ډیپلوماسۍ کلیدي معیار دی. د اسلامي امارت اقتصادي سیاست تر ډېره پر کانونو، کرنې او لومړنیو تولیدي سرچینو ولاړ دی. که څه هم دا سرچینې مهمې دي، خو یوازې پر طبیعي منابعو تکیه کول د نړیوالې سیالۍ د دوام ضمانت نه کوي. د بېلگې په توگه، د سترو کانونو استخراج د نړیوالو بازارونو له معیارونو سره سم نه دی تنظیم شوی، د پروسس تخنیکونه محدود دي او د صادراتو بازارموندنه اغېزناکه نه ده. ترڅو چې اقتصاد د ارزښت‌زیاتونې او صنعتي پراختیا مرحلې ته ونه رسېږي، نړیوال رقابت محدود پاتې کېږي (Fazli,2025: P.145).

- **د ادارو ترمنځ کمزورې همغږي او نړیواله اقتصادي انزوا:** د سکتوري ادارو ترمنځ کمزورې همغږۍ د اقتصادي ډیپلوماسۍ اغېزې کمزورې کړې دي. د بېلگې په توگه، د کانونو وزارت د استخراج په برخه کې خپله پالیسي لري، د صنعت او سوداگرۍ وزارت د صادراتو معیارونه ټاکي، خو د دوی ترمنځ همغږي محدوده ده، چې په نتیجه کې د پانگوالو لپاره د واضح لارښود نشتوالی د پانگې د جلب مخه نیسي. همدارنگه، افغانستان دا مهال د ځینو مهمو نړیوالو اقتصادي سازمانونو او مالي بنسټونو غړیتوب نه لري، چې له نړیوالو بازارونو سره د نښلولو وړتیا یې محدوده کړې ده.

- **اقتصادي بندیزونه او نړیوال فشارونه:** د اسلامي امارت اقتصادي ډیپلوماسي تر ټولو ستره ننگونه د نړیوالو بندیزونو له کبله تجربه کوي. دغه بندیزونه د بانکي تعامل، نړیوال تجارت، پانگونې او مالي لیږدونو مخه نیسي. د بېلگې په توگه، د افغانستان د بانکونو د نړیوالو تعاملاتو محدودیت د کانونو او انرژۍ سکتور پانگونې له ستونزو سره مخ کړې دي. (CSRS, 2022)

- **تخنیکي او اداري کمزورتیاوې:** د اقتصادي ډیپلوماسۍ بریا د مسلکي کادرونو، عصري ټکنالوژۍ، معلوماتي سیستمونو او د اقتصادي ځانګړې بنسټیزو جوړښتونو ته اړتیا لري. په افغانستان کې د متخصصو ډیپلوماټانو او اقتصادي مدیرانو کمښت، د معلوماتي او څېړنیزو سیستمونو نشتوالی او د پیاوړي اجرایي - نظارتي میکانیزمونو نه شتون د اقتصادي ډیپلوماسۍ د اغېزو مخه نیسي. د بېلګې په توګه، د بهرني سیاست په اقتصادي ځانګه کې د پروژو د پیژندنې، ارزونې او د پانګوالو د ملاتړ لپاره ځانګړي میکانیزمونه نه دي رامنځته شوي، چې دا د پانګونې پروسه سستوي (خادم شیرازی، ۱۴۰۴).

## ۲,۴. د اسلامي امارت د اقتصادي ډیپلوماسۍ فرصتونه

د افغانستان اسلامي امارت د اقتصادي ډیپلوماسۍ د پیاوړتیا لپاره څو مهم فرصتونه لري، او که چېرې دا فرصتونه په عملي ډول مدیریت او د واقعبینانه سیاست‌جوړونې له لارې وکارول شي، کولای شي هېواد ته سیمه‌ییز او نړیوال اقتصادي رول برابر کړي. د دغو فرصتونو عملي اړخ د ترانزیټي، انرژۍ او سیمه‌ییزو پروژو په برخه کې هم څرګند دی. ځنیې دا فرصتونه لاندې بیان شوي دي:

- **جیوپولیټیک موقعیت او د انرژۍ - ترانزیټ فرصتونه:** افغانستان د مرکزي، جنوبي، ختیځې او لویدیځې آسیا په شبکه کې موقعیت لري، چې د سیمه‌ییزو ترانزیټي او سوداګریزو لارو په مرکز کې واقع دی. دا جغرافیایي ځانګړتیا هېواد ته دا فرصت برابروي چې د انرژۍ د لېږد او سوداګریزو تبادلو مهم دهلېز شي. د منځنۍ اسیا د انرژۍ سرچینې (نفت، ګاز او برېښنا) د جنوبي اسیا بازارونو ته د افغانستان له لارې انتقالېدای شي، چې دا چاره د اقتصادي ډیپلوماسۍ لپاره ستر فرصت ګڼل کېږي. همدارنګه د افغانستان له لارې د انرژۍ د لېږد مسیرونو فعالېدل، د سیمې هېوادونو لپاره د ملي او امنیتي ګټو برخه ګڼل کېږي، ځکه دا هېواد د تولیدوونکو او مصرفوونکو

هېوادونو ترمنځ منځګړی او وصلوونکی رول لوبولی شي (Atif,2024: P. 61-63.).

- **د سیمه‌ییزو ترانزیټي دهلېزونو مرکزیت:** افغانستان د شمال- جنوب او ختیځ–لویدیځ ترانزیټي لارو په تقاطع کې موقعیت لري، چې دا چاره د هېواد لپاره د سیمه‌ییز اتصال مهم ظرفیت رامنځته کوي. دا موقعیت افغانستان ته دا فرصت ورکوي، چې د روسیې، منځنۍ اسیا، قفقاز، عربي هېوادونو او حتی ختیځې اسیا هېوادونه له خپلې سینې په تېرېدنې سره ونښلوي. د ترانزیټي دهلېزونو فعالېدل د صادراتو او وارداتو د اسانتیا، د ترانزیټي فیسونو او ګمرکي عوایدو د زیاتوالي او د لوجستیکي خدماتو د پراختیا لامل کېږي. همدارنګه، دا ظرفیت د کورنیو تولیداتو د سیالۍ وړتیا لوړوي او افغانستان له یوه تړلي او وارداتي اقتصاد څخه د سیمه‌ییزې سوداګرۍ فعال ګډونوال ته اړوي (درستکار، ۱۴۰۰: ص. ۱۰٦).
- **له سیمه‌ییزو اقتصادي سازمانونو سره د تعامل فرصت:** افغانستان د سیمې اقتصادي حوزو ته نږدېوالی لري، چې دا هېواد د سیمه‌ییزو اقتصادي سازمانونو لپاره د وصلوونکي عنصر په توګه مطرح کوي. د اېکو او شانګهای همکارۍ سازمان په څېر سیمه‌ییزو اقتصادي سازمانونو سره فعال تعامل کولای شي، د سوداګرۍ، ترانزیټ او پانګونې په برخو کې نوي ستراتیژیک مسیرونه پرانیزي. دا تعامل د سوداګریزو تعرفو د همغږۍ، د ترانزیټي مقرراتو د اسانتیا او د پانګونې د خوندیتوب له میکانېزمونو څخه د ګټې اخیستنې فرصت برابروي، چې له اقتصادي پلوه، دا فرصت افغانستان ته اجازه ورکوي، ترڅو د خپلو صادراتي ظرفیتونو پراختیا، د ترانزیټي عوایدو زیاتوالی او د بهرنیو مستقیمو پانګونو جذب یقیني کړي (بهرنیو چارو وزارت، ۲۰۲۴).
- **امنیتي او سیاسي ثبات او سیاسي اراده:** د افغانستان اسلامي امارت له واکمنېدو سره په هېواد کې له څو لسیزو جګړو او ناآرامۍ وروسته نسبتي امنیت او آرامه فضا حاکمه ده، چې د اقتصادي فعالیتونو ترسره کېدو ته یې زمنیه برابره کړې او

ترڅنګ یې د نظام سیاستونو هم نسبي ثبات خپل کړی، کوم څه چې د سیمې هېوادونه اقتصادي ښکېلتیا ته هڅوي. له بلې خوا، دا چې اسلامي امارت خپل بهرنی سیاست اقتصاد محوره اعلان کړی، د دې ښکارندیي کوي چې د سیمه‌ییز اتصال او اقتصادي همکاریو په برخه کې جدي سیاسي اراده موجوده ده.

### ۵. بحث او مناقشه

د اسلامي امارت په بهرني سیاست کې اقتصادي ډیپلوماسي یوازې د اقتصادي همکاریو یو تخنیکي میکانیزم نه، بلکې د سیاسي بقا، نړیوال تعامل او سیمه‌ییز ادغام د تحقق لپاره یو تدریجي ستراتیژیک عنصر بلل کېدای شي. د موضوع تحلیلي ارزونه ښیي، چې د افغانستان اوسنی بهرنی سیاست د کلاسیکو سیاسي اتحادونو پر ځای په زیاتېدونکي ډول د اقتصادي تعاملاتو پر محور راڅرخي، چې دا بدلون د نړیوال سیاسي اقتصاد د معاصرو نظریو، په ځانګړي ډول د حکومت‌محوره اقتصادي سیاست له تیوریکي منطق سره مطابقت لري. د حکومت‌محوره اقتصادي سیاست نظریه استدلال کوي، چې حکومت اقتصادي وسایل؛ لکه سوداګریز امتیازات، پانګونه، ترانزیتي اسانتیاوې او حتی اقتصادي محدودیتونه، د سیاسي اهدافو د تحقق لپاره کاروي. د همدې تیوریکي لیدلوري له مخې، اقتصادي ځواک د سخت ځواک بدیل نه، بلکې د نفوذ یو انعطاف‌منونکی شکل دی، چې په ځانګړي ډول هغو حکومتونو ته د اهمیت وړ ده، چې له سیاسي محدودیتونو یا نړیوال مشروعیتي ننګونو سره مخ وي. د افغانستان اوسنی حالت هم همدې تیوریکي فرضیې ته نږدې دی، ځکه اقتصادي تعاملات د سیاسي رسمیت د نشتوالي په شرایطو کې د نړیوال ارتباط د بدیل چینل په توګه کارول کېږي.

د تېرو څېړنو ادبیاتو ته په کتنې څرګندېږي، چې د افغانستان اقتصادي ډیپلوماسي اکثره د ۲۰۰۱–۲۰۲۱ دورې د نړیوالو مرستو، پراختیایي پروژو او مرسته‌محوره اقتصاد

له زاويې تحليل شوې ده. په دغو اثارو کې افغانستان زياتره د نړيوالو تمويلونو د ترلاسه کوونکي حکومت په توگه انځور شوی، نه د اقتصادي سياست د فعال طراح په توگه. له بلې خوا، د اسلامي امارت اړوند موجودې ليکنې عموماً د اقتصادي وضعيت تشريح، بنديزونو اغېزې يا د سوداگريزو اړيکو عمومي بيان ته محدودې پاتې شوې او لږ شمېر څېړنو اقتصادي ډيپلوماسي د بهرني سياست د مرکزي تحليلي متغير په توگه ارزولې ده. له همدې ځايه د دې څېړنې علمي نوښت راڅرگندېږي. دا څېړنه استدلال کوي، چې اقتصادي ډيپلوماسي د اسلامي امارت لپاره حاشيوي سياست نه، بلکې د بهرني سياست اصلي محور گرځېدلی دی. دلته اقتصادي تعاملات درې اساسي دندې ترسره کوي:

۱ .د حکومت اقتصادي بقا تأمينول،

۲ .د سيمه‌ييز اتصال پراخول،

۳ .د نړيوال باور تدريجي توليد.

عملي بېلگې دا ادعا لا روښانه کوي. د شمال - جنوب او ختيځ - لويديځ ترانزيټي دهلېزونو فعالول افغانستان له يوې امنيتي جغرافيې څخه پر اقتصادي جغرافيې بدلوي. دا اقدام د اقتصادي دولت‌چلونې[1] تيورۍ له نظره د جغرافيايي موقعيت اقتصادي کول[2] گڼل کېږي. همدارنگه، له سيمه‌ييزو جوړښتونو لکه اېکو او شانگهای سره تدريجي تعامل د رسمي سياسي ادغام پر ځای د اقتصادي ادغام ستراتيژي منعکسوي، چې موخه يې د تعرفوي همغږۍ، ترانزيټي قواعدو او پانگونې د خونديتوب له لارې عملي مشروعيت رامنځته کول دي.

په کورني بعد کې، مالي شفافيت، د عوايدو مرکزي کول او د پانگونې د امنيت

[1] Economic Statecraft
[2] Geoeconomic Utilization of Geography

هڅې د اقتصادي ډيپلوماسۍ داخلي بنسټونه جوړوي. د تيوريکي چوکاټ له مخې، اقتصادي ډيپلوماسي يوازې بهرنۍ عمل نه دی؛ بلکې د کورني اقتصادي نظم او بهرني تعامل ترمنځ متقابله اړيکه ده، که داخلي اقتصادي اصلاحات کمزوري وي، بهرنۍ اقتصادي تعامل هم دوامداره اغېز نه شي لرلای.

د تحليل پايلې څرګندوي چې اقتصادي ډيپلوماسي دلته د سياسي رسميت بديل نه، بلکې د رسميت د ترلاسه کولو تدريجي مسير دی. دا حالت د نړيوالو اړيکو په ادبياتو کې "له سياسي رسميت پېژندنې مخکې عملي تعامل"[1] له مفهوم سره ورته والی لري، چې په کې اقتصادي همکارۍ د سياسي تعامل مخکښ پړاو ګرځي. سره له دې، د څېړنې ساحه لا هم له مهمو تشو سره مخ ده. د بېلګې په توګه، تر بنديزونو لاندې يا نيمه‌منزوي حکومتونو (لکه ځينې تاريخي يا معاصر موارد) سره د افغانستان د اقتصادي ډيپلوماسۍ مقايسوي تحليل، د کانونو، انرژۍ او ترانزيټ سکتورونو ميداني ارزونې او د کورنيو اصلاحاتو او بهرني اقتصادي تعامل ترمنځ کميتي اړيکې لا تر اوسه په کافي اندازه تر علمي څېړنو لاندې نه دي نيول شوې. د دغو برخو ژوره مطالعه کولای شي، چې د افغانستان د اقتصادي ډيپلوماسۍ د اغېزمنتيا د سنجش لپاره يو منظم تحليلي چوکاټ رامنځته کړي.

**٦. پايله**

د معاصر نړيوال سياست په چوکاټ کې اقتصادي ډيپلوماسي د حکومتونو د بهرني سياست يوه اساسي وسيله ګرځېدلې او د دې څېړنې موندنې ښيي، چې د افغانستان اسلامي امارت بهرنۍ سياست هم په تدريجي ډول له سياسي ـ امنيتي تمرکز څخه اقتصادي تعامل‌محوره جهت ته حرکت کړی دی. څېړنه څرګندوي، چې اقتصادي ډيپلوماسي د اسلامي امارت د بهرني سياست په جوړښت کې حاشيوي عنصر نه،

[1] Functional engagement before political recognition

بلکې د نړیوال تعامل، اقتصادي بقا او سیمه‌ییز اتصال د تأمین یو مهم عملي میکانیزم ګرځېدلی دی. د سوداګریزو اړیکو پراختیا، د ترانزیټي لارو فعالول، له سیمه‌ییزو اقتصادي جوړښتونو سره تعامل او د اقتصادي همکاریو پراخولو هڅې ښیي، چې اقتصادي ابزار د بهرني سیاست د عملي کولو اصلي وسیلې ګرځېدلې دي. له همدې امله، څېړنه کاږي چې اقتصادي ډیپلوماسي د اسلامي امارت په بهرني سیاست کې بنسټیز او مخ پر پراختیا رول لري، خو اغېز ښندنه یې د داخلي او بهرنیو محدودیتونو تر مستقیم اغېز لاندې ده.

د څېړنې موندنې د وړاندې شوې فرضیې تائید کوي. پایلې ښیي، چې افغانستان د خپل جغرافیایي موقعیت، ترانزیټي ظرفیتونو او سیمه‌ییزو بازارونو ته د نږدېوالي له امله د اقتصادي ډیپلوماسۍ لپاره مهم فرصتونه لري او کولای شي د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو په پراختیا کې فعال رول ولوبوي، خو په عین حال کې، د نړیوالې رسمیت پېژندنې محدودیتونه، د نړیوال مالي نظام محدود لاسرسی، اداري ظرفیتي ستونزې او د سیمې سیاسي رقابتونه د اقتصادي ډیپلوماسۍ د بشپړې اغېزناکتیا مخه نیسي. دا وضعیت ښیي، چې اقتصادي ډیپلوماسي د امکاناتو او محدودیتونو ترمنځ یو متوازن او تدریجي بهیر دی، نه یو بشپړ متحقق شوی سیاست. همدارنګه، څېړنه څرګندوي، چې اقتصادي ډیپلوماسي یوازې بهرنی تعامل نه دی، بلکې د کورنیو اقتصادي اصلاحاتو، اداري ثبات او د پانګونې د باور فضا سره مستقیم تړاو لري. هر څومره چې داخلي اقتصادي مدیریت پیاوړی شي، هماغومره د بهرني اقتصادي تعامل ظرفیت هم لوړیږي. له همدې امله، د اقتصادي ډیپلوماسۍ بریا د بهرني سیاست او کورني اقتصادي سیاست ترمنځ د همغږۍ پورې تړلې ده.

څېړنه دې پایلې ته رسیږي، چې د اسلامي امارت اقتصادي ډیپلوماسي د افغانستان لپاره د نړیوالې انزوا د کمولو، اقتصادي ثبات د پیاوړتیا او سیمه‌ییز ادغام د پراختیا یو

عملي مسیر جوړوي؛ خو د دې سیاست دوامداره بریا د نړیوال تعامل د پراخېدو، اداري اصلاحاتو او اقتصادي بنسټونو د پیاوړتیا پورې مشروطه ده. دا موندنې ښیي، که چېرې داخلي ظرفیتونه او نړیوال تعاملات په متوازن ډول مدیریت شي، اقتصادي ډیپلوماسي کولای شي د افغانستان د بهرني سیاست د راتلونکې جهت ټاکونکی عنصر وګرځي.

## ۷. وړاندیزونه

د څېړنې د موندنو پر بنسټ، د اقتصادي ډیپلوماسۍ د اغېزو د پیاوړتیا لپاره لاندې وړاندیزونه کېږي:

۱. د ترانسپورت او مالیې وزارتونو ته وړاندیز کېږي، چې د سرحدونو، بندرونو او ګمرکي سیستمونو عصري کولو، د ترانزیټي زیربناوو پیاوړتیا او د ګمرکي پروسو ساده کولو ته لومړیتوب ورکړي، څو سوداګریز جریان چټک او د ترانزیټي سیالۍ وړتیا زیاته شي.

۲. د اوبو او انرژۍ وزارت ته وړاندیز کېږي، چې د انرژۍ د تولید، لېږد او صادراتو په برخه کې سیمه‌ییزه همغږي پراخه او د ګډو انرژۍ پروژو پراختیا ته لومړیتوب ورکړي.

۳. د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ او د صنعت او سوداګرۍ وزارتونو ته وړاندیز کېږي، چې د کرنیزو، صنعتي او معدني محصولاتو د ارزښت‌زنځیر پراختیا او د صادراتي توکو د نړیوالو معیارونو مطابق بازارموندنه پیاوړې کړي.

٤. د ریاست‌الوزراء اداري معاونیت او نورو اړوندو ادارو ته وړاندیز کېږي، چې د حکومتي ادارو ظرفیت لوړونه، د مسلکي کدرونو روزنه او د معلوماتي سیستمونو عصري کول د اقتصادي مدیریت د اغېزناک کېدو لپاره عملي کړي.

۵. د بهرنیو چارو وزارت ته وړاندیز کېږي، چې اقتصادي ډیپلوماسي د بهرني سیاست د محوري اجنډا په توگه تنظیم او د سیمې له هېوادونو او سازمانونو سره د سوداگرۍ، انرژۍ او ترانزیټي همکاریو ته لا ډېره وده ورکړي.

٦. د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته وړاندیز کېږي، چې د رسنیو او عامه ډیپلوماسۍ له لارې د هېواد اقتصادي ظرفیتونه، صادراتي توکي او د پانگونې فرصتونه نړیوالو ته معرفي کړي.

## اخځلیکونه

### پښتو او دري:


۱. پور رمضان، پرهام. (۱۴۰۲). تبیین راهبرد دیپلماسی اقتصادی ایران در افغانستان پسا طالبان. *علوم سیاسی*, ۲۶ *(3), 268–300.* https://doi.org/10.22081/psq.2024.67746.2843

۲. تنزه ای، محمدطاهر. (۱٤۰٤). دیپلماسی اقتصادی (الگوی توسعه و همگرایی در افغانستان). *فصلنامه علمی راهبرد سیاسی*, ۹ *(1), 7–27.* https://www.rahbordsyasi.ir/article_220095.html

۳. تنزه‌ای، م. احمدی، ف. ا & ,.پیمان، ن. (۲۰۲٦). دیپلُماسی اقتصادی در افغانستان معاصر: تحلیل فرصت‌ها و چالش‌ها. *فصل‌نامهٔ علمی - پژوهشی غالب*, ۱٤ *(4), 157–185.* https://doi.org/10.58342/ghalibqj.V.14.I.4.7

٤. جلالی، ذاکر. (۲۰۲٤). د افغانستان اسلامي امارت سیمه‌ییزه ډیپلوماسي. *ستوری مجله، د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت*. https://mfa.gov.af/wp-content/uploads/2024/09/سیمه-ییزه-دیپلوماسي.pdf

۵. خادم شیرازی، فاطمه. (۱٤۰٤). اقتصاد بدون شناسایی: چگونه طالبان با امتیازدهی به سرمایه‌گذاران به‌دنبال مشروعیت است. *مرکز بین‌المللی مطالعات صلح (IPSC).* https://peace-ipsc.org/fa/

٦. درستکار، احسان. (۱٤۰۰). سنجش توسعه‌یافتگی بر اساس شاخص‌های امنیّت اقتصادی و تحلیل شهرستان (مطالعه موردی: استان سیستان و بلوچستان). *اقتصاد و برنامه ریزی شهری*, ۲ (2), 101–110. https://doi.org/10.22034/UE.2021.02.02.05

۷. دهقانی فیروزآبادی، س. ج & ,.صالحی، م. (۱۳۹۱). دیپلماسی اقتصادی جمهوری اسلامی ایران؛ زمینه‌ها و چالش‌ها (با تأکید بر پنج شاخص جهانی شدن اقتصاد). *فصلنامه پژوهش‌های اقتصادی ایران*, ۱۷ (52), 73–114. https://ijer.atu.ac.ir/article_2787.html

۸. روزنامه انیس. (۲۰۲٦). دیپلماسی اقتصادمحور؛ تمرکز سیاست خارجی امارت اسلامی افغانستان در سال ۲۰۲۵. *روزنامه انیس*. *https://anisdaily.com/?p=77116* .

۹. کاظمی، سید محمد آصف. (۱٤۰۳). دیپلماسی اقتصادی و چشم‌انداز همگرایی در جهان اسلام. *فصلنامه علمی - تحقیقی مطالعات سیاسی و بین‌المللی*, ۱ *(4), 25–52*. *https://srqpis.knu.edu.af/article-1-49-fa.html*

۱۰. مظلوم یار، ف. گ. (۲۰۲۱). په سیمه کې د افغانستان جیوپولیتیکي او جیواکونومیکي موقعیت. *Afghan German Online*. https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/Mazloum_f_pa_semakay_de_afg_mauqyat.pdf

۱۱. موسوی، س. م. (۱٤۰٤). دیپلماسی اقتصادی افغانستان: گسترش روابط تجاری با آسیای مرکزی. *آفاق*. *https://afaaq.af/note/دیپلماسی-اقتصادی-افغانستان-گسترش-روابط-تجاری-با-آسیای-مرکزی/*

**انگلیسي:**

**12.** Fazli, A. A., Habib, K. A., Moaz, M. H., & Ayoubi, M. S. (2025). The political relations between the Islamic Emirate of Afghanistan and China: Opportunities and challenges. *Journal of Social and Political Sciences, 8*(1), 52–65. https://doi.org/10.31014/aior.1991.08.01.545

**13.** Fazli, A. A., & Erfani, S. T. (2025). Lithium as a strategic resource in global politics: Opportunities and challenges for Afghanistan. *SRQPIS, 2*(1), 131–152. http://srqpis.knu.edu.af/article-1-60-fa.html

**14.** Shakeeb, S. A. (2025, February 15). Strengthening economic ties between Pakistan, Afghanistan & Central Asia [Speech, Institute of Regional Studies, Islamabad]. https://islamabad.mfa.gov.af/2264-2/?utm_source

**15.** Luiz, J. M. (2022). *The politics of state, society and economy*. University of the Witwatersrand. https://econrsa.org/wp-content/uploads/2022/06/pp06_interest.pdf

**16.** CSRS. (2022). Economic and trade relations between Afghanistan and neighboring countries: Challenges and solutions. https://tinyurl.com/afg-trade-2022

**17.** CSRS. (2023). A look at the economic relations of the Islamic Emirate with Iran. https://csrsaf.org/en/?p=5152

**18.** Keyvan Hosseini, S. A., & Mousavi Kia, S. M. (2026). Pakistan's foreign policy towards Afghanistan based on "Strategic Depth" (1950–2025). *Central Eurasia Studies, 18*(2), 349–376. https://doi.org/10.22059/jcep.2025.387914.450289

**19.** Atif, A. W. (2024). The geopolitical location of Afghanistan: Opportunities and challenges in relations with South and Central Asian countries. *ATJSS, 1*(1), 58–66. https://doi.org/10.63476/atjss.v1i1.64